**پوهاند محمد بشیر دودیال** **۲۰۱۸/۱۱/۲۷**

# ټولنيزه هوساینه Social welfare

بیوزله خلک او بیوزله ټولنه، یعني هغه خلک چي د ژوند حد اقل اړتیاوې هم ورته مهیا نه وي. له بیوزلي خلاص خلک، یعني هغه خلک چي بې‌وزله نه وي. خو ټولنيزه موساینه یعني هغه آيتمم حالت چي د وګړو زياتره مادی او معنوی ضرورتونه پوره وي. د موسا ټولنو برخلاف؛ بې‌وزله ټولني او بیوزله خلک له راز راز رواني، ټولنیزو، فزیکی، اخلاقی،جسمی او نورو ستونزواو مفاسدو سره لاس او ګریوان وي . له همد امله د اسلام ستر پیغمبر سرورکائینات حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دعا کوله چي یاالله له فقر او کُفر څخه پنا غواړم. وایی کله یي چي ی‌وه ورځ دا دُع‌ا وکړه، یوه اصحابی مبارک ورڅخه وپوښتل:



یا رسول الله آیا فقر او کفر یودي؟ مبارک ورته وفرمایل: هو بیشکه چي دواړه سره یو دي.

د راشده خلفاوو په دوران کي چي اسلامي ټولني استقرار موندلی و، عمراني چارو ته پاملرنه وشوه. ورو ورو دغه عروج دومره وځليد چي له شام او فرات نيولی تر قسطنطنيې، اندلس او ډیرو اسلامی واکمنیو پوري پراخ شو. لومړني حیرانوونکی کشفیات او تخنیکونه لکه ساعت، ذات الحلق، پیل اشکانی، اهرم مرکب او نور همدا وخت رامنځته شول.په ریاضیاتو، فزیکاتو،نجوم او هندسه کي زبردست پرمختګونه وشول. دغه مهال اسلامی ټولنی د غوره فرهنګی او اخلاقی سجایاوو لرونکی او د عدالت مرکزونه وو.

خو ګورو چي په فقر کی ټول منکرات دي، لکه غلا، دوکه، غیبت، وژني، بُهتان، احتکار، ذلت...

دمحبوب پیغمبر له پورته مبارک ارشاد څخه ښکاری چي داسلام مبارک دین د عزت دین دی، نه د ذلت. د اسلام دمبارکو لارښوونو څخه یوه دا هم ده چي : تر ضعیف مومن څخه پیاوړی غوره دی او له ټیټ لاس څخه لوړ !

دلته منظور له لوړي او فقر څخه د خلاصي اسلامی ټولني هدف دی او له لوړ لاس څخه موخه ښه اقتصاد لرل دي.



کله چي فقر نه وي، نو تعليم، اخلاق، عبادات، روامعاملات، عدالت او هرهغه نیک اعمال او صفات به وي چي اسلام یي امر کړی دی.

نه یواځي د اسلام مبارک دین، بلکي غربی پوهانو هم د سالم فرد، سالمي روزنی، د ټولنيزو ناخوالو، ظلم، جګړي او تاوتريخوالی د مخنیوی په خاطر او د انسانی کرامت د ساتنی او د انسان پرسر د کرم دتاج د پاتي کیدو او د فردی عزت د حفاظت په موخه اقتصادي پرمختیا ته پاملرنه وکړه. د صدر اسلام په دور کي هم د کانالونوکیندنو، دبندونو او باغونو



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

جوړولو او تجارتی لارو او کاروانسرایونو جوړولو ته دهمدې فلسفي له مخې پاملرنه شوی وه، خو له بده مرغه اوس د یوشمیر هیوادو وګړي له راز راز ټولنیزو بدمرغیوسره مخامخ دی.

هغو هیوادو او هوښیارو ملتونو چې ذلت ته ماتي ورکړه او ځان یې عزت ته ورساو، د دنیا او آخرت سوبه یې ګټلې ده. په دی کی یو هم د یوې ټولنې رفاه او د خلکو هوساینه ده.

هوساینه د حکومتی پروګرامونو او هېوادونو په انکشافي اهدافو کې د نورو اهدافو تر څنګ یو هدف دی. دا د یوه ښه او انسانی ژوند معیار دی. هوساینه نسبي بڼه لري. هوساینه دټولنیز ژوند په معیار سره ښودل کېدای شي، یعني په یوه بڼه باید دغه ټولنیز یا جمعي معیار په نښه شي. هوساینه او رفاه یو اخلاقي مفهوم هم لرلای شي، چې ارزشي قضاوت پورې اړه لري ، خو اقتصادي اړخ یې دادی چې ایا لاندنی ټولنیزې اړتیا وې څومره ترسترګو کېږي :

- غذايي مصئونیت او دفزیولوژیکی اړتیاوو مهیاوالی؛
- د وګړي امنیت او درناوی؛
- عامه خدماتو ته دټولنې د وګړو لاسرسي.
- د کورنو ډول، د پاکو اوبو شتون، د ژوندد منځنی عمر اندازه
- فردي ازادي او ډیرشمیر نور.

دټولنیزی موساینې تاب-ع یا social welfare function هغه تابع دی چې اقتصاد پوهان یې په پام کې نیسی. دا د ټولنې د موخو ښودونکی ده، چې په هغو سره ټولنیزه هوساینه د هغو شکلونو او ښو دیوه تابع په توګه چې سرچینې ورته تخصیص کېږي، ښودل کېږي. ښاغلی Bergson. H د شلمې پېړۍ نامتو فیلسوف (۱۸۵۹ - ۱۹٤۱م) وایي چې د ټولنیزې هوساینې تابع د ټولنې د وګړو لپاره، د مطلوبیت د پوره والي له مخې ښودل کېږي، خو د دې ترڅنګ یو شمېر نور متحولین هم راتلای شي. د افغانستان په شان یوه پرمختیایي هېواد ته ډېره مهمه ده چې هوساینه (رفاه) او د رفاه تابع په پام کې ولري. د دې لپاره یوشمېر معیارونه په لاندې توګه د ي:

**الف)** که چېرې د ټولنې وګړي A وضعیت تر B غوره وبولي، نو د ټولنیزې رفاه د تابع په واسطه همدغه A حالت منل کېږي او د پاریتو اصل تحقق مومي؛

**ب )** ټولنیزه پوهه او عقلانیت بېلابېلو بدیلو او الترناتیفو امکاناتو کې هغه تر ټولو غوره خوښوي او هغه دوی ته مهیا کوي؛

**ج )** دیکتاتوري موجوده نه وي، هیڅ یو وګړی د بل د رجحان مخه نه نیسي، یو وګړی په بل کوم څه نه تحمیل کوي او استبداد پکې نه وي. له دې پرته ډېر داسې معیارونه چې انساني اومنطقي وي او ممکن دهغو لېست کول دلته ډېر ځای ونیسي.

د دغو معیارونو شتون یو د خوښۍ وړ وضعیت دی چې له بحران څخه لرې وي، کافی خواړه، تعلیم، د بیو ډېر ښه تعادلي حالت یا له هغه څخه ډېر لږ ښکته یاپورته واقع کېدل، سوداګري، اقتصادي فعالیتونه یو ثبات لرونکی او سوله بیزتګلوری چې د خلکو د اندېښنې وړ نه وي.

د دغو معیارونو مجموعي ته د ژوند عمومي کچه (living standard) هم وایي، چې د یوې ټولنې د ټولو وګړو د ژوند ښودنه کوي. د بېلګې په توګه دغه معیار دسړی سر ملي ناخالص عاید اویا هم د ټول ملي مجموعي تولید یا هم په ټولنه کې د اجناسو او خدماتو د مصرف له مجموعي څخه ترلاسه کېږي او دغه هره یوه اندازه له یوې ټولنې تر بلې

توپیر کوي، یعني نسبي بڼه لري.  د ژوند د کچې د معلوملو په خاطر د مقداري شاخصونو(انډکسونو) ترڅنګ یو شمېر غیر مقداري مشخصي هم شته. د بېلګې په توګه هرو زرو تنو ته د شخصي موټرو، ټیلفون، تلویزیون، یخچال، دکالیو مینځلو ماشین او نورو ضروری اجناسو مهیا والی یې مقداري مشخصه ده، خو روغتیا، مطبوعات، دفرهنګی او تعلیمی مرکزونو او خدماتو توسعه، دزده کړو درجه او د پوهې کچه یې یوه غیر مقداري مشخصه ده . دې ته quality of life هم ویل کېږي، چې د یوه وګړي یا کورنی د عاید اندازې متناسب سنجول کیږي.  د ژوند د کچې په سنجش کې د یوه وګړي یا کورنی د اجناسو او خدماتو د مصرف ترڅنګ د دوی د (استراحت) مصرف هم په پام کې نیول کېږي. پرمختللی ټولنې اوس هڅې کوي چې د ژوند کچه د ټولو کورنیو ترمنځ سره نژدې کړي. دولتونه دغې موخې ته د ټولنیزې پالیسي د یوې برخې په توګه ګوري.  په دغې موخې کې داسې برخې هم راځي چې اندازه کول یې ستونزمن دی لکه د چاپېریال ساتنې معیار، د ملي امنیت درجه، دغوره چاپیریال کیفیت، فردي مصؤنیت، اقتصادي، سیاسي او ټولنیزه ازادي او داسې نور. داټول نه‌لمس کېدونکي ارزښتونه دي، خو د ژوند د کچې او کیفیت لپاره مهم دی.

په یوه ټولنه کې د وګړو د مطلوبیت د هوساینې یا رفاه او ټولنیزې هوساینې ترمنځ یوه رابطه موجوده ده. هرکله چې وګړي ځان له رفاه بی برخی احساس کړی، کله چې دوی بیعدالتی وګوری، کله چې محرومیت مسلط شی، ټولنه ثبات له لاسه ورکوی، فرد یا وګړی له ستونزو څخه د وتلو په خاطر آن یو شمیر ناوړه حالاتو لکه روحی عدم تعادل، ناامیدی، مخدراتو ته پناوروړلو، نورو نارواچارو لکه ځان وژنې او ډېرو منفی پدیدو ته مخ اړوی.

د دې لپاره چې بیرته ټولنیز ثبات ترلاسه او ولس ته هیلې او ژوند ته امیدواری پیدا کړو، باید اقتصادی بیارغاونې ته



لومړیتوب ورکړو.  اوسنی وخت کې افغانستان کې بیوزلی نژدی د نیمایی ولس لمن نیولی ده، په تیره بیا د ارزګان، هلمند، دکندهار اطرافونه، د ننګرهار اوغزنی لرې پرتې سیمې په دې ناوړه حالت او ناهیلیو اخته دي.

حیرانوونکی دا ده چې نه یواځې افغانستان، بلکې ډیر شمیر نور بیوزله هیوادونه هم د فوق العاده قوی اقتصادی پوتانسیل لرونکی دی. د معاصر اقتصاد نامتو څیړي (بوکانان) بیبځایه نه و ویلی چې: *غوره به وی چې د وروسته پاتې ټولنو د بیوزلی په ځای د هغوی په ثروتونو فکر وکړو!*

همداسې ده :

د افغانستان دجنوب د درې ولایتونو(هلمند، کندهار او فراه) ځمکی د افغانستان د اوسنی نفوس درې واره نور زیات نفوس یعنی ۹۰ میلیونه وګړو ته غلې- دانې برابرولای شی (که له سیندونو او خاوری یې ګټه پورته شي)، دافغانستان د معادنو ارزښت څو تریلیونه ډالره اټکل شوی دی او انرژکی منابع یې دومره دی چې له کفاف پرته یې صادرولای هم شی.  افغانستان د لیتیوم، وسپنې، مس او قیمتی ډبرو لکه لاجبر، زمرد، لعل او دې ته ورتو ذخایرو لرونکی دی. د امریکی د متحده ایالاتو پلټنو ښودلې چې د افغانستان لیتیم د بولویا تر هیواد څخه هم زیات دی. دغه قیمتی ماده

افغانستان څخه  داسي هيواد جوړولای شی، لکه نفتو چي سعودی ته اقتصادی ګټه رسولی ده. له دي پرته د افغانستان اقليمی منابع او  ستراتيژيک  ارزښت هم تر ټولو اوچت دی.

دا ولس به هله ټولنيزی هوساينی او د عزت ژوند ته ورسيږی چي اقتصادی بيا رغاونه ورته ډالی کړو. دا د منور قشر او تعليم يافته ځوان نسل دنده ده چي دا چاره راسمه کړي.






تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!


ټولنيزه هوساينه

Dodiwaal_m_bashir_tolaniza_hossaayena.pdf